# د PWCS د کورنیو د ښکیلتیا لړۍ

د PWCS د کورنیو د ښکیلتیا لړۍ په مجازی ډول د ناستی یوه لړۍ ده کوم چې د PWCS د کورنیو د ظرفیت لوړولو په موخه د ټولني ملتیا کوونکو سره په ګډه د PWCS د پروګرامونو او خدماتو په اړه پوهه او سرچینې رامنځ ته کوي. د PWCS کورنۍ دی د زوم (Zoom) راجستریشن په کارولو سره د هرې ناستې لپاره نوم لیکنه تر سره کړي. د غوښتنې کولو په صورت کې به د ژباړنی اسانتیاوي وړاندي کیږي. ټولې ناستې د ماښام په 7 بجو پیل کیږي او یو ساعت دوام مومي. لاندې ذکر شوي د مارچ 2023 غونډو لپاره موضوعات دي.

| نیټې | د ناستی موضوعات |
|---|---|
| لومړی ناسته: 7 مارچ، 2023 | **زده کړه او لاسته راوړنه د ټولو لپاره: د کورنیو سره په ریاضی او لوست کی ملاتړ**<br>دا ناسته به د کورنیو سره د مرستې کولو په موخه  په ستراتیژیو باندي تمرکز وکړي تر څو هغوي وکولی شي چې د خپلو زده کوونکو سره په کور کې په لوست او ریاضیاتو کی په ښه توګه مرسته وکړاي شي. ګډونوال به د کورنی دندي په ښه توګه تر سره کولو، د زده کړی پیاوړي کولو او د خپلو زده کوونکو سره د اکاډمیکی خبرو اترو تجربه خوندوره کولو لپاره لس غوره لاري چاری زده کړي. |
| دویمه ناسته: 14 مارچ، 2023 | **زده کړه او لاسته راوړنه د ټولو لپاره: د ابتدایه ښوونځیو زده کونکو لپاره د سواد آموزی او لیکلو سرچینې**<br>دا ناسته به په ابتدایه ښوونځي کې د غیر افسانوي متن په کارولو سره د اوریدلو، خبرې کولو، لوستلو او لیکلو برخو په یوځای کولو تمرکز وکړي. کورنیو ته به په بریښنایی ډول سرچینې ورکړل شي ترڅو متن ته د لیکلي ځوابونو په جوړولو کی ورسره ملاتړ وکړي. |
| دریمه ناسته: 21 مارچ، 2023 | **مثبت اقلیم او کلتور: د اوږد مهاله غیر حاضری او د ښوونځی څخه د وتلو مخنیوی: د کورنیو لپاره موجودې سرچینې**<br>دا غونډه  به په تعلیمي پروګرام/ښوونځي کې  د بیا ښکیل کیدو او بیا نوم لیکني په فرصتونو تمرکز وکړي کوم چې داخلي او بهرنی اړتیاوي پوره کوي. د کورنیو سره د هغوي د زده کوونکو لپاره او احتمالا پخپله د هغوي لپاره د اکاډمیکی اړتیاو په پیژندلو کي مرسته کولو په موخه، د PWCS د بیا نوم لیکني او راجستریشن پروګرامونو په اړه به خبری اتری تر سره کیږي. |
| څلورمه ناسته: 28 مارچ، 2023 | **زده کړه او لاسته راوړنه د ټولو لپاره: د منځني او عالي ښوونځیو زده کوونکو لپاره د سواد آموزی او لیک زده کړي سرچینې**<br>دا ناسته به په  منځنیو او عالي ښوونځیو کې د غیر افسانوي متن په کارولو سره د اوریدلو، خبرې کولو، لوستلو او لیکلو برخو په یو ځاي کولو تمرکز وکړي. کورنیو ته به په بریښنایی ډول سرچینې ورکړل شي ترڅو متن ته د لیکلي ځوابونو په جوړولو کی ورسره ملاتړ وکړي. |

**د لاندې QR کوډ په کارولو سره د ناستو او ژباړنی اسانتیاوو لپاره که اړتیا ورته وي، خانونه راجستر کړئ.**

SCAN ME